د افغانستان اسلامي امارت

د تعلیم او تربیي کمېسیون

مسلسله شماره ( ۲۵۱ )

نېټه: ۲۷/جمادي الاول/۱۴۳۹ هـ ق

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿ یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ ﴾

## تــــوافــــقـــــنـــــامـــــه

د افغانستان اسلامي امارت د **تعلیم او تربیي کمېسیون د نماینده ګانو** او د **هلمند ولایت د معارف د استازي** تر منځ پر لاندې مادو موافقه وسوه او جانبین یې په اجراء مکلف دي:

**اوله ماده:** مدارس، مکاتب، د معارف اداري تعمیرات او ګډامونه ملي ملکیت او شتمني ده، امارت یې ساتنه خپل فرضیت ګڼي، او د پوهنې الله ج پېژندنې د خپرولو اوترقی لپاره به شپه او ورځ کار کوي. او د تعلیم د فرضیت په اره به د مساجدو امامان په وعظ مکلف کوي.

**دوهمه ماده:** د معارف ریاست دی د هري ولسوالی د معارف مسولین ،مفتشین (ناظرین) او د تعلیمي مراکزو ټول ناظمین خپلو مربوطه ولسوالیو ته راولېږي، امارت یې په حفاظت او حمایت مکلف دی.

**دریمه ماده:** د تعلیم او تربیي د ریاست او وزارت ولایتي او مرکزي کارکوونکي او ناظرین په کامل اطمینان سره د امارت تر حاکمیت لاندې مناطقو ته سفر او نظارت کولای سي، البته په مرکزي سطح د هیئت د راتګ څخه به قبلا د امارت د معارف مسولین په جریان کښې کوي.

**څلورمه ماده:** د معارف وزارت او ریاست د مدارسو او مکاتبو لپاره د ننې او پرون په دول هر دول تعمیراتي کارونه تر سره کولای سي او د امارت هیڅ نظامي او ملکي مسولین به یې مزاحمت نه کوي.

**پنځمه ماده:** د معارف ریاست کارکوونکي به د نن څخه فورا د ټولو بندو مدارسو او مکاتبو د بیا فعال کولو لپاره جدي ګامونه اخلي، په هره منطقه کښې چې هر ملکي کس یا نظامي مسول خند پیښوي په ګوته او د شریعت مطابق به په سزا ورسیږي.

**شپږمه ماده:** د معارف مسولین به د هغو مناطقو لپاره چې مدارسو او مکاتبو ته رسیدګي نه سي کولای مکلف دي چې هغوی ته الحاقیه تعلیمي مراکز او یا هم محلي صنوف تاسیس کړي.

**اوومه ماده:** امارت اطمینان ور کوي چې د معارف ټول غصب سوي ملکیتونه به د غاصبینو څخه خلاص او تاسو ته وسپاري، خو د املاکو تایید سوي نقشې او اسناد به قبلا اماده کوئ او د معارف مسولین به یې له ځان سره راوړئ.

**اتمه ماده:** د مدارسو او مکاتبو لپاره د معارف تدریسي نصاب کتابونه، قرطاسیه او د همکارو موسساتو لخوا د متعلمینو سره مرسته کېدونکي ارتزاقي مواد په کامل اطمینان سره رانقل کولای سي، د ستونزي په وخت کې فورا د امارت مسولین په جریان کې کړئ.

**نهمه ماده:** جانبین به د معارف د ټولو مشکلاتو او موانعو د رفع کولو لپاره د هماهنګۍ متواتر جلسات دایروي او د معارف استازي به د هر دول خوف او ترس څخه پرته په دانه زړه راځي او مشکلات به شریک کوي.

**لسمه ماده:** هغه ښوونکي/سر ښوونکي/مدیران او امرین چې د غفلت په وجه دندي ته حاضر نه سي، موږ یې غیرحاضر کوو، او معارف به د هغوی د غیرحاضرو ورځو معاش نه حواله کوي. تر څو لا ښه د وظایفو پابند سي.

پورته لس موارد تر ډېر جر او بحث وروسته تصویب او لازم الاجراء دي، هر جانب به په کامل اخلاص سره هغه تطبیق کوي.

د ښوونې او روزنې کمېسیون نماینده ګان

د معارف استازی محمدداود افغان او مل هیئت

۱۴۳۹=۵=۲۷